مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۱۵مه | ۴۹۷مه ګڼه

# د شکایتونو کمېسیون پرېکړې؛

## د ۱۰۹ محلونو رایې باطلې اعلان شوې او د څه باندې ۵۰۰۰ محلونو بیاشمېرل کېږي



۳

د مایع ګازو لوړه بیه او د پردیو چارواکو ورک ځواب
۲ مخ

ولې باید افغانستان او پاکستان د اوبو د وېش تړون لاسلیک کړي؟
۳ مخ

څنګه خپل کاري فرصتونه وپېژنو؟
۵ مخ

## کتاب


۴ مخ

### خاینه تلواله

د کتاب لیکوال په دې اند دی چې مذهبي ایران د امریکا او اسراییلو غیر عقلاني دښمن نه دی، لکه څنګه چې د صدام حسین په مشرۍ عراق او د طالبانو په واکمنۍ کې افغانستان داسې و.



## کرنې ریاست: په ننګرهار کې د غنمو پر ۴۱ ډوله تخمونو څېړنې کېږي




د ننګرهار د کرنې ریاست ویلي، چې د دغه ریاست د مسلکي او فني کارکوونکو له خوا د شیشم باغ په څېړنیز فارم کې د غنمو پر ۴۱ ډولونو، چې پکې مورني، هستوي او تجربوي تخمونه شامل دي، څېړنې کېږي.
د دغه ولایت د کرنې ریاست چارواکو ویلي، چې په دې څېړنه کې د غنمو ۴۱ ډولونه، چې پکې د نباتاتو د اصلاح، اګرانومي او د ناروغیو د مطالعې سیټونه شامل دي، تر څېړنې لاندې نیول شوي دي.
دوی دغه راز ویلي، چې د دغو څېړنو پایلې د کرنې له کارپوهانو، متخصصینو او بزګرو سره شریکېږي څو په راتلونکي کې د غنمو د ښه او ډېر تولید په پار کوټلي ګامونه واخیستل شي. د دې تر څنګ، په دې څېړنیز فارم کې بزګرو، ځمکه والو، د کرنې پوهنځي او د کرنې د انسټېټیوټ زده کړیالانو ته هم د کرکېلې په بېلابېلو برخو کې د عملي او نظري زده کړو زمینه برابره شوې ده.

## سیګار: افغانستان لا هم د نړۍ تر ټولو بېوزله هېواد دی

د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا سرمفتېش ادارې یا سیګار پر خپله ټویټر پاڼه په یوه خپاره کړې پیغام کې ویلي، چې په افغانستان کې د بېوزلۍ او فقر تر ټولو ستر لامل رواني جګړې او نا امنۍ دي.
سرچینې ویلي، چې اوس د افغانستان ۵۰ سلنه وګړي د ورځې یوازې په یوه ډالر ژوند تېروي او په منځني ډول هر افغان د خپل کلني عاید اته سلنه برخه په درملنه لګوي. سیګار دغه راز زیاته کړې چې افغانستان د نړیوالو له مرستو سره سره، بیا هم د نړۍ تر ټولو بېوزله هېواد دی او د دې اړتیا ده چې له دغه وضعیته وژغورل شي. د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا سرمفتېش اداره داسې مهال دغه راپور خپروي چې د ملي یووالي حکومت د کار له پیل سره سم په هېواد کې د اقتصادي ودې د پراختیا خبره کړې وه او ټینګار یې کړی و چې بېوزلي به له منځه وړي.
په ورته وخت کې د سیګار له دغو څرګندونو وړاندې هم ځینو نړیوالو ادارو په افغانستان کې د ناوړه اقتصادي وضعیت په اړه راپورونه خپاره کړي او خبرداری یې ورکړی چې که د مخنیوي لپاره یې لازم اقدامات ونه شي، ښایي دغه هېواد په راتلونکو کلونو کې یوه بل ناورین ته بوځي.
د یادونې ده چې افغان حکومت د سیګار د دغو څرګندونو په تړاو تر دې دمه په رسمي توګه څه نه دي ویلي.

## سرچینې: خلیلزاد لا هم د طالبانو د رهبرۍ پرېکړې ته په تمه دی




۲ مخ

## لوی څارنوالي: جواد پیکار به دلیل تقرری های غیرقانونی ممنوع الخروج شده است




لوی څارنوالی افغانستان می گوید که جواد پیکار سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی به دلیل تقرری های خلاف صلاحیت در بعضی از بست های آن وزارت و داشتن جایدادها در بیرون از کشور ممنوع الخروج شد. در مکتوبی سه ماده یی لوی څارنوالی افغانستان که دیروز منتشر شده، آمده است، در جلسه یی که روز شنبه (۲۱ جدی سال جاری) در ارگ برگزار شده بود، رئیس جمهور محمد اشرف غنی چنین هدایت فرمودند:
«۱ـ جواد پیکار سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی بر خلاف صلاحیت شان در بعضی از بست ها آن وزارت اشخاص را به حیث سرپرست و یا وارسی کننده توظیف نموده اند که این موضوع در مغایرت با فرمان مقام ریاست جمهوری قرار دارد، موضوع به صورت جدی تحقیق شود.
۲- موصوف جایدادهای را در ترکیه خریداری نموده است، موضوع در همکاری با ریاست عمومی اداره امور ریاست جمهوری پیگیری و مشخص گردد تا روشن شود که این اپارتمان ها و جایدادها را از کدام منبع و چه وقت خریداری نموده است؟ در رابطه به جایدادهای مذکور فورم ثبت دارایی وی مورد دقت قرار گیرد و در خصوص روشن شدن حقایق فوق ریاست عمومی امنیت ملی با لوی څارنوالی همکاری نماید.
۳- الی اکمال تحقیق و اتخاذ تصمیم قانونی، موصوف ممنوع الخروج گردد.
موضوع فوقاً نگاشته شد تا طبق هدایت مقام عالی بدون تاخیر اجراات و از نتیجه اطمینان بفرمایند».
همچنان یک منبع که از گرفتن نامش خوداری کرد، به پژواک این موضوع را تائید کرده است.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

## د مایع ګازو لوړه بیه او د پردیو چارواکو ورک ځواب

له څو ورځو راهیسې په کابل کې د مایع ګازو بیه له اسمان سره خبرې کوي. پرون په کابل کې یو کیلو ګاز په سل افغانۍ پلورل کېده، چې په ځینو سیمو کې دا بیه تر دې هم لوړه وه. د ګازو د بیې لوړوالي خلک له سختو ستونزو سره مخ کړي، ځکه له یوه اړخه سوړ ژمی دی او له بله اړخه برېښنا هم ډېر وخت نه وي او ځینې خلک د کورونو د ګرمولو لپاره هم له ګازو ګټه اخلي.

خلک له دې امله غوسه دي او پر حکومت پرله پسې نیوکې کوي، خو حکومت مناسب ځواب نه لري. دولت یوازې دومره وایي چې د مایع ګازو د تصدۍ دولتي مغازې ګاز ارزانه پلوري. د دغو مغازو مخې ته په سلګونو کسان ولاړ وي او ټوله ورځ انتظار کوي، خو د ورځې په پای کې بیا هم نوبت ور نه شي. په دې ډول خلک په ستونزو کې دي او دولت یې هم پر وړاندې بې تفاوته دی. له بده مرغه دولتي چارواکي د ولس ستونزې، خپلې ستونزې نه ګڼي، ولس خپل نه ګڼي او له خلکو پردي دي. د خلکو ستونزې، ویر او چیغې پر دوی هېڅ اغېز نه کوي. د سوداګرۍ وزیر چې مخامخ د دې چارو مسوول دی، د افغانانو پر ژبه نه پوهېږي او آن پر افغانیت یې هم شک دی، له همدې امله د افغانانو له درد، خپګان او ستونزو ناخبره دی. له بله اړخه د مایع ګازو سوداګرو هم پر اسلامي او انساني ارزښتونو پښه ایښې، احتکار کوي او د دې غریب ولس وینې څېښي. دوی پوهېږي چې حکومتي چارواکي یې مخه نه نیسي او یا هم په دغه ظلم کې ورسره شریک کېږي.

د اشرف غني اقتصادي پلانونه هم یوازې دروغ وو چې د خلکو په سترګو کې د خاورې شیندلو او رایې اخیستلو لپاره یې ویلي وو. پرون سیګار ویلي چې افغانستان د نړۍ تر ټولو بې وزله هېواد دی چې تر پنځوس سلنې زیات وګړي یې د ورځې یوازې پر یو ډالر ژوند کوي. د ملي وحدت حکومت د اقتصادي ستونزو د زیاتېدو او د خلکو د کار او ژوند د خرابېدو سبب شوی دی. دوی یوازې دروغ ویلي او له وړو مسایلو یې لویې کیسې جوړې کړې دي. حکومت د چین او افغانستان تر منځ د اورګاډي د پرانیستې لپاره پراخ تبلیغات وکړل، خو اورګاډی چې ولاړ بیا را ونه ګرځېد. حکومت د لاجوردو په لاره د شپږو لاریو د تګ لپاره پراخ تبلیغات وکړل، خو همدا یې لومړنۍ او وروستۍ تګ و. دا چارواکي آن د ایران په هوایي حریم کې د ستونزو له امله افغانستان ته د سل زرو ډالرو عوایدو زیاتوالی هم ستره لاسته راوړه ګڼي او تبلیغوي یې. دا حکومت یوازې پر دروغو او په ټولنیزو رسنیو کې پر تبلیغاتو چلېږي، خو پر ځمکه د خلکو ژوند ورځ تر بلې خرابېږي، د خلکو اقتصاد کمزوری کېږي، خو د ټوکو بېې زیاتیږي. دولت هم ورځ تر بلې مالیې لوړوي او د خلکو جیبونه لوټي.

رښتیا دا دي چې له دې چارواکو نور تمه کول بې ځایه دي، دا واکمن له موږ پردي دي، زموږ له ګټو او ارزښتونو پردي دي. د دې ولس درد، غم، خپګان او ستونزې چارواکو ته مهمې نه دي او د ولس او چارواکو تر منځ کوم ګډ ټکی نشته. له همدې امله پکار ده چې دوی نور له دې څوکیو را ښکته کړل شي او پر ځای یې وړ، د ولس پر درد دردمن او زموږ د ارزښتونو لرونکي خلک واکمن شي.

# د شکایتونو کمېسیون پرېکړې؛

## د ۱۰۹ محلونو رایې باطلې اعلان شوې او د څه باندې ۵۰۰۰ محلونو بیاشمېرل کېږي



د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون تېره ورځ د خپلو څو ورځو کار پایله له رسنیو سره شریکه کړه. دوی وویل چې نږدې لس زره شکایتونه یې بېرته رد کړي دي. همدا راز به د منل شوو او مستندو شکایتونو له مخې، د څه باندې پنځو زرو محلونو رایې بیاشمېرل کېږي. د شکایتونو کمېسیون وایي چې دوی خپل کار په پوره شفافیت مخ ته وړي، خو ځینې ټاکنیزې ډلې له روان کاره راضي او ځینې یې بیا مخالفت کوي او په خبره یې، دوی د کمېسیون د پرېکړو په اړه د استیناف غوښتونکي دي.

د لومړنیو پایلو تر جنجالي اعلان وروسته، د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون خپل کار پیل کړی دی او د ټاکنو د وروستیو پایلو اعلان د دوی تر پرېکړې پورې ځنډېدلی دی. د شکایتونو کمېسیون غړو پرون په یوه خبري غونډه کې وویل چې د دوی کارونه ښه پرمخ روان دي او له خپلو لوایحو او مقرراتو سره سم یې ځینې پرېکړې کړې دي. د دې پرېکړو له مخې، ۹۸۶۶ شکایتونه بېرته رد شوي دي. د کمېسیون رییسه زهره بیان شینواري وایي، د دغو شکایتونو په اړه اسناد موجود نه وو او نه هم دوی ته موجه ښکاره شوي، نو ځکه یې رد کړي دي. کمېسیون دغه راز وایي چې په ۲۱ ولایتونو کې به د مستندو شکایتونو پر بنسټ، د ۵۳۱۶ محلونو رایې بیاشمېرل کېږي. سرچینه کاږي: «۱۸شکایتونه اصلاحي پروسس ته تللي دي، د شکایتونو پر بنسټ، ۲۱ ولایتونو کې د ۵۳۱۶ محلونو د رایو بیاشمېرنه کېږي».

کمېسیون دغه راز د لسګونو محلونو د رایو له باطلېدو هم خبر ورکوي. د کمېسیون د غړو په خبره، د دوی د پرېکړو او مستندو شکایتونو پر بنسټ یې د ۱۰۹ محلونو رایې باطلې اعلان کړې دي. کمېسیون زیاتوي چې د شکایتونو د ارزونې په پروسه کې یې ځینې کسان جزایي او جریمه کړي هم دي. د کمېسیون غړي وایي: «۱۰۹ محلونه باطل شوي، ۷۵ تنه نغدي جریمه شوي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون ۷۱ تنه له دندې لرې کړل شوي دي».

کمېسیون دغه راز وایي چې ۱۱۱ شکایتونه استثنایي دي او لا ډېر بحث او خبرو ته اړتیا لري. د دوی په خبره، دغه شکایتونه د بېلو مواردو په اړه ثبت شوي دي چې په اړه به یې تر کره ارزونو او دقیقو اقداماتو وروسته پرېکړه کوي. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وایي: «هغه ۱۱۱ استثنایي شکایتونه چې کابل ته رالېږل شوي، څلور مهم یې له وخت مخکې د ۱۰۲ زرو رایو، د ۱۳۷ زرو شکمنو رایو، په هر محل کې د پایلو د پاڼې او بایومټریک دستګاه تر منځ د یوې تر پنځو رایو توپیر او دغه شان د هغو ۲۴۲۴ محلونو په اړه دي چې بایومټریک معلومات نه لري».


د شکایتونو کمېسیون دغه راز د هغو ۱۰۹ محلونو په اړه هم کره معلومات نه لري، چې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون له لوري باطل اعلان شوي دي. د سرچینې په خبره، دوی به په دې اړه پلټنې کوي او بیا به پرېکړه کوي. د کمېسیون د غړو په خبره، دغه مرکزونه تر ډېره په کابل او بدخشان کې دي.

بلخوا ټاکنیزې ډلې بیا د کمېسیون د پرېکړو په اړه ډول ډول غبرګونونه لري. د ولسمشر غني په مشرۍ د دولت ساز ټاکنیز ټیم وایاند د دې هرکلی کوي، چې کمېسیون زرګونه شکایتونه رد کړي دي. د دغه ټیم وایاند رضوان مراد وایي، په دې سره د دوی رایې نورې هم ډېرېږي او دا به ښه وي چې بې ثبوته شکایتونه حذف کړل شي.

د ثبات او همپالنې ټیم بیا وایي، دوی به د هغو محلونو په اړه معلومات کوي چې د کمېسیون له لوري باطل اعلان شوي دي. د دې ډلې وایاند وایي، دوی له خپلو رایو دفاع کوي او په دې برخه کې له ټولو قانوني لارو استفاده کوي.

د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون بیا وایي چې ټولې ډلې حق لري چې تر راتلونکو دریو ورځو د دوی د پرېکړو په اړه د استیناف غوښتنه وکړي او په دې اړه خپل شکایتونه ثبت کړي.

## امریکا: له ایراني لاریونوالو سره روان تاوتریخوالی د منلو نه دی



امریکا ایران ته خبرداری ورکړی چې له لاریونوالو سره تاوتریخوالی ورته د منلو نه دی.

دا په داسې حال کې ده چې د پرله پسې څلورمې ورځې لپاره په تهران کې د صنعتي شریف او امیر کبیر پوهنتونونه د سلګونو محصلانو د اعتراضونو شاهد وو چې د حکومت پر ضد یې شعارونه ورکول.

له دغو لاریونونو وروسته، په ټولنیزو شبکو کې هغه تصویرونه لاس په لاس کېږي چې ښیي پولیس او امنیتي ځواکونه د خلکو پر ضد له اوښکي بهوونکي ګاز او نظامي ځواک څخه کار اخلي، خو ایراني چارواکو ویلي چې له ځواک څخه یې کار نه دی اخیستی.

په ورته وخت کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاندې مورګان اورتاګوس ایران ته خبرداری ورکړی چې هېواد به یې د ایراني لاریونوالو پر وړاندې تاوتریخوالی ونه زغمي.

هغه دغه راز زیاته کړې: «فکر کوم ډېره مهمه ده چې په یاد ولرو، درې-څلور ورځې مخکې، ایرانیانو ته د دوی د حکومت له خوا دروغ وویل شول، مخکې له دې چې ومنې، دوی رښتیا هم د اوکراینۍ الوتکې د نسکورېدو مسوول دي».

دا په داسې حال کې ده چې د اوکراین د نړیوال هوایي شرکت یوه الوتکه د تېرې چهارشنبې په سهار په تهران کې د امام خمیني له نړیوال هوایي ډګر څخه تر پورته کېدو څو شېبې وروسته، د ایران د سپاه پاسداران ځواک له خوا په توغندي وویشتل شوه.

ایراني چارواکو له څو ورځنې انکار وروسته د شنبې په ورځ ومنله چې دا الوتکه د دوی په پوځي توغندي په تېروتنه ویشتل شوې ده. د راپورونو له مخې، په دې پېښه کې د الوتکې ۱۷۶ سپرلۍ چې د شپږو هېوادونو وګړي وو، ټولې ووژل شوې.

په دې الوتکه کې ۷۶ ایرانیان، ۶۳ کاناډایان، ۱۳ افغانان، ۱۱ اوکراینیان، ۳ برېټانویان او ۳ سویډنیان سپاره وو، چې کیف ته روانه وه.

بلخوا د کاناډا د بهرنیو چارو وزیر ویلي، د افغانستان، اوکراین، برېټانیا او سویډن د بهرنیو چارو له وزیرانو سره چې وګړي یې د تهران د الوتکې په پېښه کې وژل شوي، د دې پېښې په بېلابېلو اړخونو بحث او خبرې کوي.

د کاناډا د بهرنیو چارو وزیر فرانسوا فلیپ شمپین د دوشنبې په ورځ وویل چې د دغو پنځو هېوادونو لوړپوړي ډیپلوماتان په لندن کې سره ګوري.

په ورته وخت کې د کاناډا لومړي وزیر جسټن ټروډو ژمنه کړې چې د تهران د هوایي پېښې قربانیانو ته به انصاف برابروي.

په ورته وخت کې د دې پېښې په اړه د نړۍ په کچه غبرګونونه دوام لري او په تېرو ورځو کې یې د ایران زیات وګړي لارو کوڅو ته راوویستل.

## سرچینې: خلیلزاد لا هم د طالبانو د رهبرۍ پرېکړې ته په تمه دی

په قطر کې د امریکا او طالبانو تر منځ د مذاکراتو د وروستي پړاو تر ځنډېدو وروسته، ظاهراً لاهم د مذاکراتو د پیل لپاره شرایط نه دي اماده شوي.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ځینو غړو ډېلي ټایمز ته ویلي، پاکستان ته د قطر  دفتر پلاوي له سفر او سلا مشورو وروسته، اوسمهال د طالبانو مشر ملا هیبت الله د دې ډلې له رهبرۍ شورا سره د اوربند او تاوتریخوالي پر کمېدو پر مشورو بوخت دی.

په ورته وخت کې د سولې له خبرو باخبره کسان وایي، د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی په دې تړاو د طالبانو د رهبرۍ شورا پرېکړې ته په تمه دی.

ازاد خبریال طاهر خان چې د سولې روانه پروسه له نږدې څاري، په دې اړه وایي: «اوس فیصله د طالبانو د مشر ملا هیبت الله په لاس کې ده او ویل کېږي چې نوموړي د دې هوکړه لپاره کمېټه ټاکلې چې خپل کارونه مخکې یوسي».

خو له دې سره په کور دننه د حکومت او سیاسیونو تر منځ د سولې مسئلې پر سر پر اختلاف سربېره، د ملي یووالي حکومت مسوولان هم په دې برخه کې یوه خوله نه دي.

ولسمشرۍ ماڼۍ د تاوتریخوالي کمېدل کاپي نه بولي او پر اوربند ټینګار کوي، خو اجرایه ریاست وایي، یوازې د تاوتریخوالي کمېدل هم کولای شي چې د باور فضا رامنځ ته او مذاکراتو ته زمینه سازي وکړي.

د اجرایه ریاست د ویاند مرستیال احمد امید مثیم وایي: «اوسمهال فکر کوو که د جګړې د کمولو لپاره کار کېږي او جګړې راکمېږي، دا به د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره یو مثبت ګام وي».

که څه هم د سولې مذاکراتو د ځنډېدو یو لامل د اوربند او تاوتریخوالي کمېدو پر سر اختلاف بلل کېږي، خو شنونکي وایي، په سیمه کې د ایران او امریکا تر منځ تازه راپورته شوې لانجه هم په دې برخه کې بې اغېزې نه ده.

# ولې باید افغانستان او پاکستان د اوبو د وېش تړون لاسلیک کړي؟

لیکنه: حکمت الله ځلاند

دا مقاله له پاکستان سره د اوبو د وېش تړون پر اړتیا بحث کوي. د مقالې له مخې، په پاکستان کې د اوبو د کمښت ستونزه، پاکستان ته بهېدونکې اوبه او د پاکستان اندېښنې هغه څه دي، چې له پاکستان سره د اوبو د وېش د تړون د لاسلیکولو اړتیا ښیي.

د دې تر څنګ، په دې مقاله کې هڅه شوې چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د اوبو د وېش تړون په لاره کې شته خنډونه او فرصتونه په نښه کړي او دا چې د دواړو هېوادونو تر منځ د اوبو د وېش تړون نشتون به پر دواړو هېوادونو څه اغېزې وکړي، څواب یې ویل شوی دی.

پاکستان د افغانستان هغه ګاونډی دی چې په سویل-ختیځ کې ۲۴۳۰ کیلومتره اوږده پوله او د کابل سیند په حوزه کې، د اوبو د وېش له کوم تړون پرته، ګډې اوبه لري. دا چې په افغانستان او پاکستان دواړو هېوادونو کې د اوبو د کمښت ستونزه په پراخېدو ده، د ګډو اوبو د وېش قضیې اهمیت او له کبله یې راټوکېدونکې ستونزې هم زیاتې شوې دي.

**په پاکستان کې د اوبو د کمښت ستونزه**

د کابل سیند حوزه د افغانستان په څېر پاکستان ته هم خورا زیات اهمیت لري، ځکه دغه هېواد له ډېر وخت راهیسې د اوبو د کمښت له فشار سره مخ دی. د ملګرو ملتونو د نړیوالو اوبو د پراختیا د راپور له مخې، په پاکستان کې د اوبو سرچینې یوازې په پنځو کلونو کې نږدې نیمایي کمې شوې دي. د دغه راپور له مخې، دا کچه د هر کس لپاره په ۲۰۰۰ ز کال کې ۲۹۶۱ مترمکعب څخه په ۲۰۰۵ ز کال کې ۱۴۲۰ مترمکعب ته راټیټه شوې ده.

پاکستان د هغو هېوادونو په کتار کې هم دی چې د کرنیزو موخو لپاره تر ځمکې لاندې اوبو څخه تر ټولو ډېره استفاده کوي. د یوې سروې له مخې، په پاکستان، نیپال او بنګلدېش کې د ۷۵ سلنه سیمو د څړوبولو لپاره تر ځمکې لاندې اوبه کارول کېږي او له همدې کبله د یوې څېړنې له مخې، په پنجاب ایالت کې تر ۲۰۱۵ ز کال پورې په ۵ یا ۶ کلونو کې د ځمکې لاندې اوبو کچه له ۵ تر ۶ متره پورې ښکته تللې وه. همدا راز د بلوچستان ایالت په ځینو برخو کې په تېره یوه لسیزه کې هر کال له ۲ تر ۳ مترو پورې اوبه ښکته تللې دي او اصلي لامل یې هم په دغه هېواد کې د اوبو افراطي کارونه ده.

**پاکستان ته بهېدونکې اوبه**

دا چې په کابل سیند حوزه کې هم د اوبو د اندازه کولو فعال او د دواړو هېوادونو تر منځ همغږي شوی سیستم او کره مواد نشته، نو پاکستان ته د بهېدونکو اوبو د کچې ارقام هم له یو بل سره توپیر لري. د ځینو تخمینونو له مخې، له افغانستان څخه پاکستان ته د اوبو جریان ۲۱.۵ کیلومتر مکعب دی او له دې جملې ۱۵.۵ کیلومتر مکعب یې له کابل سیند (په دې کې بیا ۱۰ کیلومتر مکعب یې له پاکستان څخه سرچینه اخلي) او ۶ کیلومتر مکعب یې هم د دغې حوزې له نورو شاخو لکه پنجشېر، ګومل، مارګو شمال او کرم سیندونو څخه دي.

د پاکستان د اوبو او برېښنا د پراختیا ادارې د معلوماتو له مخې، افغانستان د کابل سیند له لارې د پاکستان ۱۶ تر ۱۷ سلنه پورې اوبه برابروي. خو د پاکستان له پولې سره څېرمه په ډکه سټېشن کې د دغه سیند د تخلیې اوسط کچه ۶۰۸.۴ مترمکعب په هره ثانیه کې ده. دغې کچې ته په کتو سره کابل سیند د سند حوزې ۱۹.۲ کیلومتر مکعب یا ۲۰ سلنه کلنۍ اوبه برابروي.

دغه راز د پاکستاني څېړونکو موندنې ښیي، چې له کابل سیند سره د سوات او جبنډې سیندونو له یو ځای کېدو وروسته په نوښېره سټېشن کې د پنځو کلونو په جریان کې ثبت شوي مواد ښیي، چې له جولای څخه تر اګسټ میاشتې پورې دغلته د اوبو جریان په هره ثانیه کې له ۱۰۰۰ مترمکعب څخه زیات دی.

**د پاکستان اندېښنې**

د کابل سیند حوزه په پراخه کچه د اوبو زېرمه کولو او برېښنا د تولید وړتیا لري. په دې حوزه کې د ۸ تر ۱۰ پورې داسې بندونو جوړولو وړتیا شته، چې په لوړه کچه د اوبو زېرمه کولو او برېښنا د تولید وړتیا ولري. پاکستان اندېښنه لري چې د کابل سیند پر حوزه پراختیایي او زېربنایي کارونه به د پاکستان په اړخ کې د دې حوزې پر اړوندو سیمو منفي اغېزې وښندي. په ټوله کې خیبر پښتونخوا ایالت او په ځانګړې توګه د خیبر پښتونخوا ایالت درې سیمې (پېښور، نوښېره، چارسده) د کابل سیند د اوبو کمېدو له کبله اغېزمنېږي.

پاکستانی لوری اټکل کوي چې پر کابل سیند د پلان شوو بندونو له جوړېدو سره به د دې حوزې د لاندینۍ سیمې په توګه پاکستان ته د ورتلونکو اوبو کچه ۱۷ سلنه راټیټه شي او دا هغه څه دي، چې په طبیعي ډول په افغانستان کې د دغو پروژو د بشپړېدو په تړاو د پاکستان اندېښنې له ځان سره لري. دا کمښت به داسې مهال وي، چې په تېرو څو لسیزو کې د اوبو د عمومي کچې د کمښت له کبله هم پاکستان ته د بهېدونکو اوبو کچه کال په کال کمه شوې ده او پاکستانی لوری اندېښمن دی، چې په افغانستان کې د اوبو د بندونو له جوړېدو سره به په پاکستان کې تر کابل سیند لاندې سیمې د اوبو د کمښت له بحران سره مخ شي، کوم څه ته چې پاکستان چمتووالی نه لري. پاکستاني څېړونکې په دې اند دي، چې دا وضعیت به له کابل سره د اسلام اباد پر اړیکو ژورې اغېزې ولري.

له لویه سره د اوبو کمښت او په ورته وخت کې د پاکستان په اړخ کې د اوبو افراطي کارېدنه یوه مهمه اندېښنه ده.

په دې حوزه کې د اقلیمي بدلونونو او د هوا د ګرمېدو له کبله د واورو او یخچالونو کچه کمېږي، چې له کبله یې د واورې اورښت پر بارانونو بدلېږي او ډېرې اوبه په هغو وختونو کې بهېږي، چې اړتیا یې کمه وي. څېړنې ښیي چې په تېرو ۵۰ کلونو کې د پامیر او هندوکش غرونو کې د طبیعي یخچالونو کچه ۳۰ سلنه کمه شوې ده.

په افغانستان کې له جګړو او بې‌ثباتیو وراندې د کابل سیند پر حوزه ۷ بندونه جوړ شوي او د ۱۲ بندونو جوړول په پلان کې دي، چې پر دوو یې عملاً کار روان دی. دا بندونه به په ټولیز ډول ۱۸۹۱ مېګاواټه برېښنا تولید کړای شي. په پاکستان کې بیا دوه بندونه (ورسک او ګولن) د همدې حوزې پر اوبو جوړ شوي دي. پاکستان په ۲۰۱۴ ز کال کې په خیبر پښتونخوا سیمه کې د داسو بند طرحه هم نړیوال بانک ته د تمویل په موخه ورکړې وه، چې د نړیوال بانک له خوا له افغان دولت سره له شریکولو وروسته د افغانستان له مخالفت سره مخ شوه.

دا چې افغانستان د اوږدو جګړو او بې‌ثباتیو له کبله د اوبو په ګډون، د ډېرو سکټورونو د پراختیا او پرمختیا فرصت نه دی موندلی، اوسمهال کله چې په دې برخه کې ګام پورته کېږي، د اوبو د حوزې د لاندینیو هېوادونو اندېښنې راپاروي او هغوی د تېر په څېر د ورتلونکو اوبو تمه لري. افغانستان د خپلو نورو ګاونډیانو په پرتله، لږ پرمختللی هېواد دی او د اوبو په برخه کې انکشافي کارونو ته جدي اړتیا لري. له بلې خوا دا باور چې هر هېواد کولی شي، په تېر کې د تر لاسه کړو اوبو تمه په راتلونکې کې هم ولري، په نړیوالو قوانینو کې رد شوی دی. په دې تړاو د ۱۹۹۲ ز کال او ۱۹۹۷ ز کلونو کنوانسیونونه حللارې وړاندې کوي، لکه له ګډو اوبو منصفانه او معقوله ګټه اخیستنه او داسې نور. د دې تر څنګ، دا چې د کابل سیند په حوزه کې پراختیایي کارونه تر ډېره د برېښنا د تولید لپاره دي او د ځمکو خړوبولو وړتیا پکې کمه ده، پر لاندېنۍ برخه یې اغېزې هم کمې دي.

**د افغانستان او پاکستان د اوبو د وېش مسئله**

له بده مرغه افغانستان او پاکستان د کابل حوزې د اوبو په تړاو هېڅ ډول هوکړه یا کوم تړون نه لري. په دې تړاو یوازینۍ هوکړه‌لیک په ۱۹۲۱ ز کال کې د افغانستان او برېټانیا تر منځ دی، چې اوبو ته ډېره کمه اشاره پکې شوې ده. په دې معاهده کې برېټانیا هوکړه کړې چې افغانستان کولی شي د تورخم د اوسېدونکو لپاره د یوې لولې له لارې اوبه واخلي او په مقابل کې افغانستان هوکړه کړې، چې برېټانیایي مامورین او له ډیورنډ کرښې هاخوا قبایل کولی شي له کابل سیند څخه د کښتۍ چلولو او اوبو لګونې لپاره کار واخلي.

له ۲۰۰۱ ز کال را وروسته که څه هم افغانستان او پاکستان د اوبو په تړاو د تړون لاسلیک کولو هڅه کړې؛ خو تر اوسه په دې کار بریالي شوي نه دي. په ۲۰۰۳ ز کال کې د اوبو د وېش تړون لپاره د یوې ۹ کسیزې ګډې تخنیکي کمېټې هڅې د بې‌باوریو او اوسني وضعیت په اړه دقیقو معلوماتو د نشتون له کبله له ماتې سره مخ شوې. په ۲۰۰۶ ز کال کې نړیوال بانک هم یو ځل بیا د دواړو هېوادونو د هڅولو هڅه وکړه، خو پایله یې نه لرله. په ۲۰۱۳ ز کال کې کله چې پخواني ولسمشر حامد کرزي او لومړي وزیر نواز شریف د برېښنا د تولید لپاره د کونړ سیند د پراختیا د هڅو په تړاو یو هوکړه‌لیک لاسلیک کړ، تر یوه بریده په دې برخه کې پرمختګ ولیدل شو؛ خو د دغه توافق جزیات هم پټ پاتې شول.

**د اوبو په تړاو د خبرو اترو پر وړاندې خنډونه**

د دواړو هېوادونو تر منځ خرابې اړیکې او اوږدې بې‌باورۍ د اوبو په تړاو د همکاریو په لاره کې یو اساسي خنډ دی. دا بې‌باورۍ له څلورو مشخصو ډګرونو خړوبېږي (له هند سره د افغانستان اړیکې، د ډیورنډ قضیه، د پښتونستان قضیه، له طالبانو د ملاتړ قضیه).

د اوبو نړیوال څېړونکي په دې اند دي، چې د اوبو په تړاو خبرو اترو او له ګاونډیو هېوادونو سره د یوه منصفانه تړون د لاسلیک کولو لپاره په اړوندو افغان ارګانونو کې وړتیا کمه ده، چې یو اساسي لامل یې د اوبو د قضیې او په تېره بیا له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو د مسائلو په تړاو د تخنیکي پوهې کموالی دی. د دې تر څنګ د یوې سروې له مخې، د افغانستان د اوبو په سکټور کې ډېری کسان د اړیکو پر بنسټ ګومارل شوي، نه د زده کړو او تجربو له مخې. که څه هم له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو د قضیې لپاره د ۲۰۱۶ ز کال په مې میاشت کې بین الوزارتي کمېسیون هم جوړ شو، خو تر اوسه یې هېڅ کومه رسمي غونډه نه ده لرلې. خو په بل اړخ کې پاکستان بیا د اوبو په سکټور کې د تخنیکي پوهانو او کدرونو له پلوه یو بډای هېواد دی. پاکستان له هند سره په ۱۹۶۰ ز کال کې د سند سترې حوزې د اوبو په تړاو یو هوکړه‌لیک لاسلیک کړی او د ګډو اوبو د وېش په برخه کې ښه وړتیا او تجربه لري.

د اوبو په برخه کې د څېړنو جدي کمښت او له نورو هېوادونو سره د ګډو اوبو په تړاو د کاپي معلوماتو نشتون هم هغه ستونزه ده، چې په دې تړاو یې خبرې اترې له ننګونو سره مخ کړې دي. په ځینو مواردو کې د اوبو او انرژۍ او کرنې وزارتونو او د چاپېریال ساتنې د ملي ادارې عین معلومات یا خو تناقض لري او یا هم نږدې ۵۰ سلنه متفاوت دي. له همدې کبله دقیق او د کارېدنې وړ معتبر معلومات، له پاکستان سره د اوبو په اړه د خبرو اترو لپاره خورا زیات اهمیت لري. په بل اړخ کې پاکستان که څه هم د کابل سیند حوزې په اړه کاپي معلومات لري؛ خو د دوو اړخیزو همکاریو د کمزورۍ وضعیت له کبله یې له افغان لوري سره نه شریکوي.

د دې تر څنګ، له ګاونډیو هېوادونو سره د ګډو اوبو د مسئلې په اړه عامه پوهاوی هم په نشت حساب دی. عام ذهنیت اوسمهال دا دی، چې په افغانستان کې یا له افغانستانه بهر ته بهېدونکې هر څاڅکی اوبه د افغانستان ملکیت دی. په دې تړاو عامه پوهاوی په ملي کچه د حکومت له خوا د تصمیم نیولو لپاره د عامو خلکو ملاتړ ته اړتیا لري، کوم څه چې د عامه پوهاوي په نشتون کې په سم ډول نه شي تر لاسه کېدای. دا ستونزه هومره جدي ده، چې پخوانی لومړی وزیر محمد موسی شفیق د هلمند سیند د اوبو په تړاو د تړون له لاسلیک کولو کابو یو کال وروسته لومړی ونیول شو او بیا یو کال وروسته د کمونیستانو له لوري د «اوبه خرڅوونکي» په نوم په څرخي پله زندان کې ترور شو.

په لنډه ټکو کې د دواړو هېوادونو د ګډو اوبو په تړاو د افغان لوري داخلي ننګونې، په افغانستان کې د متخصص کدر نشتون، ناکاپې سازماني ظرفیت، بې‌باوره معلومات، امنیتي ستونزې، د اوبو د نړیوالو قوانینو یا ګډو اوبو په اړه د عامه پوهاوي نشتون، بودجوي ستونزې، د سطحې او تر ځمکې لاندې اوبو د کیفیت ستونزه (په تېره بیا په کابل کې) او د اوبو په سکټور کې د ښې حکومتولۍ نشتون دي. همدا راز د کابل حوزې د اوبو په تړاو بهرنۍ ننګونې، د پاکستان او افغانستان تر منځ بې‌باوري او د همکاریو نشتون، د نفوس زیاتوالی (په تېره بیا ښارونو کې)، اقلیمي بدلونونه او داسې نور دي.

**پر ګډو اوبو د خبرو اترو او هوکړې لپاره شته فرصتونه**

د پورتنیو ستونزو او خنډونو تر څنګ، ځینې داسې فرصتونه هم شته چې د دواړو هېوادونو تر منځ د اوبو د ستونزې له هواري سره مرسته کوي:

لومړی: د ګډو اوبو پر قضیه د کار لپاره د افغانستان د حکومت اوسنۍ سیاسي اراده او ژمنه د دواړو هېوادونو لپاره، په تېره بیا د خبرو اترو د پیل او یوه توافق ته د رسېدو لپاره، ښه فرصت ګڼل کېږي.

دویم: د نړیوالې ټولنې توجه او لېوالتیا، په ځانګړې توګه نړیوال بانک د کابل حوزې په تړاو د افغانستان او پاکستان تر منځ له همکارۍ او خبرو اترو سره د مرستې لېوالتیا ښودلې او په دې حوزه کې یې ځینې څېړنې هم کړې دي.

دریيم: غیر رسمي څېړنې هم هغه فرصت دی، چې په دې تړاو د معلوماتو او عامه پوهې له زیاتوالي سره مرسته کوي، هغه هم داسې مهال چې په دې برخه کې د معلوماتو کمښت په تېره بیا افغان لوري کې یوه مهمه ستونزه بلل کېږي.

څلورم: د نړیوال بانک د څېړنې له مخې، د کابل سیند حوزې په لوړه برخه (افغانستان) کې پانګونه او پراختیایي کارونه به پر پاکستان ډېرې لږ اغېزې ولري؛ ځکه په دې حوزه کې د اوبو لګونې د سیمو د پراختیا لپاره محدوده وړتیا شته ده او په دې حوزه کې جوړېدونکي او پلان شوي بندونه تر ډېره د برېښنا د تولید په موخه دي. له همدې کبله د دې حوزې د اوبو مسئله د شخړو پر ځای پر همکاریو بدلېدای شي؛ ځکه د برېښنا د تولید پروژې به د دواړو هېوادونو د برېښنا اړتیاوې پوره کړي. دغه ټکي ته په کتو سره، دا ډول پروژې د دواړو هېوادونو تر منځ له سیاسي ستونزو سره سره پلې کېدای شي. ښه بېلګه یې له مرکزي اسیا څخه سوېلي اسیا ته د برېښنا د لېږد (کاسا-۱۰۰۰) پروژه ده، چې له ټولو ستونزو سره سره د پلي کېدو په حال کې ده.

په لنډه ټکو کې شته فرصتونه، د دې حوزې د اوبو په تړاو د شته ستونزو په هوارې کې مرسته کوي. د ګډ کار لپاره په افغان اړخ کې د سیاسي ارادې او ژمنې شتون، د نړیوالو تمویلوونکو شتون او توجه، د مخ پر ودې فعالیتونو شتون لکه ګډې څېړنې او پر پاکستان د افغانستان په خاوره کې د اوبو د زېربناوو کمې اغېزې، هغه فرصتونه دي چې د اوبو په برخه کې د همکاریو لامل کېدای شي او په ټوله کې بیا دا همکارۍ د سیمې له ثبات سره مرسته کوي.

**د کابل-اسلام‌آباد د اوبو تړون د نشتون اغېزې**

امنیتي ستونزې او په تېره بیا د اوبو د بندونو جوړولو په تړاو د ګاونډیو هېوادونو لاسوهنې، تر ټولو جدي ستونزه ده، چې له کبله یې افغانستان د خپلو اوبو په مدیریت او اغېزناک ډول کارولو او د دغه سکټور د پراختیا په چارو کې له ننګونو سره مخ کېږي. ډېر ځله ګاونډي هېوادونه د دغه ډول پروژو پر سبوتاژ کولو تورن شوي دي. د بېلګې په توګه، په هرات کې د سلما بند د کارکوونکو وژل کېدل او د کونړ سیند د بند په سیمو کې بریدونه یادولی شو، چې ایران او پاکستان پکې پر لاس لرلو تورن دي.

د ایران په څېر له پاکستان سره د اوبو مسئله هم خورا سیاسي بڼه لري او په ټولیز ډول د اوبو د مدیریت قضیه په تخنیکي ارګانونو لکه له اوبو او انرژۍ وزارت څخه د ملي امنیت شورا او ولسمشرۍ ماڼۍ ته رسېدلې ده. کوم څه چې په نورو هېوادونو کې هم شته او د ګډو اوبو اهمیت ته په کتو سره ښایي مثبتې اغېزې هم ولري؛ خو کله چې په دې تړاو هېڅ تړون موجود نه وي او د خبرو اترو لومړي پړاوونه وي، ښایي اغېزې یې منفي وي.

د تړون نشتون دا قضیه نوره هم پېچلې کوي. له یوې خوا افغانستان په دې حوزه کې د بندونو جوړولو پلان لري او یا یې کار روان دی، چې پر پاکستان به هم اغېزې ولري او له بلې خوا پاکستان هم له افغان لوري سره له مشورې پرته پر کابل سیند د اوبو زېرمه کولو پروژې پلې کوي.

په اوسني وخت کې که څه هم د افغانستان او پاکستان تر منځ د ګډو اوبو په تړاو همکارۍ او خبرې اترې ډېرې عملي نه ښکاري؛ خو دا هغه قضیه ده چې کال په کال یې اړتیا زیاتېږي، ځکه په دواړو اړخونو کې د اوبو تقاضا د بېلابېلو لاملونو له کبله لوړېږي او په دې منځ کې د یوه تړون نشتون پر سیاسي اړیکو لا زیاتې منفي اغېزې ښندي. په دې تړاو ښه حللاره دا ده، چې د ملګرو ملتونو یا نړیوال بانک تر سرپرستۍ لاندې د ګډو اوبو پر سر د خبرو اترو لپاره یو کمېسیون وټاکل شي او له سیاسي اغېزو لرې په دې تړاو هڅې وکړي.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

## د کاروبار پر اخلاقو څه شوي دي؟




**د کاروبار پر اخلاقو څه شوي دي؟**

تاسو په کاروبار کې اخلاق څنګه تعریفوئ؟ په زړه پورې درته ښکاري، که ستونزه او سردرد؟ نه، زه فکر کوم زیاتره خلک کرکه ترې لري او پر درغلۍ او غیراخلاقي معاملو اخته دي.

دې نومونو ته به ستاسو غبرګون څه وي؟ اېنرون ، ډېنیس کوزلووسکي ، ورلډکام او ادلفیا شرکت؟ ښایي د ګډوډۍ احساس درته پیدا شي. که د دې شرکت اخلاقي قضیو اغېز دربانديې کړی وي، نو حتما به ورته غوسه یئ!

د برکلي پوهنتون د حسابدارۍ پروفیسور برت ټرومین چې په هاس پوهنتون کې د اقتصاد درس ورکوي وایي:((بازارونه څکه ورځ په ورځ خرابېږي چې پانګوال نه پوهېږي پر چا باور وکړي. که دغه مسایل نه وي، بازارونه به ببرته ښه شي.))

موږ چې کومې اخلاقي ستونزې وینو، پرته له شکه چې یوازې تر کاروباري نړۍ محدودې نه دي. ولس د اخلاقي ځورونو هغو قضیو وېرولی چې په کاتولیک کلیسا کې ترسره شوې او بیا پټې شوې وې.

ستیفین امبروس د تاریخ پروفیسور دی او پولیزر جایزه یې هم ګټلې ده؛ خو څه وخت مخکې ځینو راپورونو خلک حیران کړل چې ده هم له توماس چیلډرز تاریخپوه د خپل کتاب «دی وایلډ بلو » لپاره اندغلا (ادبي غلا) کړې وه. چا چې په ( ۲۰۰۲ز) کې د کالیفورنیا په سالټ لیک ښار کې د المپیک ژمنۍ لوبې لیدلې وي، حتما به غوسه شوي وي چې د لوبې یوه څارونکي دعوه وکړه چې د جوړه یې سیالۍ په اړه د ده پرېکړه نه ده منل شوې.

جورج برنا له خلکو پوښتنه وکړه چې د بېلابېلو مسلکونو پر رهبرانو بشپړ باور لرئ چې د خپلو مسلکونو په برخه کې به بشپړې اخلاقي پرېکړې کوي؟ د دې پوښتنې ځواب تر ډېره منفي و.

**د بېلابېلو مسلکونو په رهبرۍ کې د باور سلنه**

| رهبر | ګټلی ولسي باور |
|---|---|
| د لویو شرکتونو مدیران | ۳ سلنه |
| ټاکل شوي دولتي چارواکي | ۳ سلنه |
| لیکوالان، ډایرکټران او پروډیوسران | ۳ سلنه |
| خبریالان | ۵ سلنه |
| د کوچنیو کاروبارونو مدیران | ۸ سلنه |
| وزیران او روحاني مشران | ۱۱ سلنه |
| ښوونکي/ استادان | ۱۴ سلنه |

سره له دې چې ښوونکي په ولسي باور درلودلو کې تر نورو مخکې دي؛ خو موندنې ښیي چې په هرو ۷ تنو کې ٦ تنه پر دوی هم بشپړ باور نه لیواله نه دي.

اخلاقي دوه لارې

زموږ کرکه اوس بحث ته راګرځي. خلک غواړي پر دې پوه شي چې اخلاق ولې په دومره بد حالت کې دي؟ دا پوښتنه ډېر زیات ځوابونه درلودای شي؛ خو زه پر دې باور یم چې کله خلک غیراخلاقي پرېکړې کوي، نو په دې درېیو کې به یو دلیل حتما ورته لري:

۱) موږ هغه کار کوو چې تر ټولو اسانه وي.

اخلاقي دوه لارې یا معضله هغې بې خونده او په نه زړه ټاکنې ته وایي چې موږ یې د یوه اخلاقي اصل یا عمل پر وړاندې کوو. موږ په داسې حالاتو کې څه کوو؟ موږ اسانه کار کوو، که سم؟ مثلاًکه سودا اخلم او دوکاندار په تېروتنه ډېرې پیسې راکړي، نو زه به څه کوم؟ که یو اسانه دروغ زما تېروتنه پټولای شي، نو زه باید څه ووایم؟ د یوه پېرودونکي د راخپلولو لپاره به زه تر کومه حده پر خپلو کړو ژمنو عمل کولای شم؟

اخلاقي دوه لارې یا معضله هغې بې خونده او په نه زړه ټاکنې ته وایي چې موږ یې د یوه اخلاقي اصل یا عمل پر وړاندې کوو.

د انسانانو په توګه په شخصي اخلاقي ازموینو او ارزونو کې ماتې ته ډېر مایل یو. که ښه پوهېږو چې دا کار مو ناسم دی، نو ولې یې کوو؟ موږ درغلي په دې خاطر کوو چې وایو، وبه نه نیول شو؟ موږ په دې خاطر ځان ته د ټګۍ اجازه ورکوو چې همدا یو ځل دی او تل یې نه کوو؟ پر موږ چې فشار راشي همداسې چلن ورسره کوو؟

۲) هغه کار کوو چې ګټه مو پکې حتمي وي.

زه فکر کوم زیاتره خلک زما په خبر دي: زما له بایلات (ماتې) بد راځي. کاروباري خلک د بریالیتوب او لاسته راوړنو له لارې ګټې ته ډېر زیات لیواله وي؛ خو زیاتره یې پر دې فکر دي چې دوی باید د ګټې او اخلاقو ترمنځ یو شی وټاکي.

**دوام لري...**

# خاینه ټلواله


اکسوس کتابپلورنځی

دې کتاب په ۲۰۰٦ ز کال کې د کتابونو پر نړۍ ډېر زیات اغېز وکړ، ځکه پکې را غونډ شوي مالومات او پټ رازونه د لومړي ځل لپاره افشا شول او له امریکا سره د ایران د اټومي لانجې په تړاو د منځني ختیځ په اړه ناویل شوي څېزونه پکې روښانه شول. کره مالومات د دې کتاب تر ټولو مهمه ځانګړتیا ده، داسې چې د پردې تر شا د (اسراییلو، ایران او امریکا) مثلث پټې معاملې کولې، خو د دې کتاب لیکوال ترې پرده پورته کړې ده. لیکوال تریتا پارسي په امریکا کې د امریکایانو د ملي شورا مشري کوي چې د منځني ختیځ، ایران، امریکا او اسراییلو په اړه یې ډېر کتابونه لیکلي دي.

په دې کتاب کې د ایران- اسراییلو د تېرو ۵۰ کلنو اړیکو، امریکایي سیاست او په منځني ختیځ کې د امریکا اغېز او ځای ته کتنه شوې ده. د دې کتاب لیکوال له څه باندې ۱۳۰ لوړپوړو اسراییلي، ایراني او امریکایي چارواکو سره مرکې کړې دي، چې د خپلو هیوادونو په مهمو پرېکړو کې ښکېل وو. پر دې سربېره، ډېرې وثیقې، تحلیلونه او معتبر مالومات پکې را اخیستل شوي دي. لیکوال د امریکا، ایران او اسراییلو هغو درې اړخیزو اړیکو ته کتنه کړې ده، چې پر مټ یې هره یوه د خپلو ګټو لپاره بېل بېل سیاست کړی دی او د پټو معاملو له لارې، پرته له دې چې له یو بل سره خپله دښمن وښیي، ډېرې معاملې یې کړې دي.

د واکمن تفکر برعکس، د کتاب پر بنسټ، ایران او اسراییل له یو بل سره په ایډیالوژیکه شخړه کې نه دي، بلکې د حل وړ ستراتیژیک حل لري. په کتاب کې ډېر ځایه راغلي دي چې ایران او سراییل په پټو او مخامخ خبرو کې هېڅکله یو بل ته سوځوونکې او دښمنانه خبرې نه کوي.

کتاب دې ته اشاره کړې چې د جیو-سیاسي وضعیت له مخې، ایران او اسراییل د عربانو په لمن کې نه دي جګړې او نه هم د سولې ژوند لري. د دې کتاب ارزښت د کره مالوماتو په را غونډولو کې دی، چې ځینې یې د لومړي ځل لپاره نړیوالو ته په ډاګه شوي دي. بل دا چې لیکوال د ایران، اسراییلو او امریکا تر منځ د اړیکو طبیعت ته له ظاهري اختلاف سربېره کتنه کړې ده او د اړیکو هغه خړه فضا یې هم روښانه کړې ده، چې دواړو لورو پکې خپلې ګټې لټولې.



د کتاب لیکوال په دې اند دی چې مذهبي ایران د امریکا او اسراییلو غیر عقلاني دښمن نه دی، لکه څرنګه چې د صدام حسین په مشرۍ عراق او د طالبانو په واکمنۍ کې افغانستان داسې و. دواړه دولتونه داسې انګېري چې ګني په لوېدیځ او سویل کې پر خپلو ګاونډیو عربانو له کلتوري او تاریخي اړخونو غوره والی لري او داسې ګومان کوي چې د دوی په منځ کې د فارسیانو وجود د دوی په تمدن کې ډېره همکاري کړې ده.

مینه وال کولای شي پر اکسوس سربېره، دغه کتاب د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | کج روی سیاسی و صلح | سید جاوید اندیش | ۱۵۰ |
| ۲ | سخنوری‌سیاسی | رسول خان امین و محمد جلال بارز | ۱۵۰ |
| ۳ | وطن مې د ناکامورا د ژوند رښتینې داستان | نورالله سلطان زوی | ۱۰۰ |
| ٤ | څنګه ژوند وکړو؟ | فریبا دولت خوا/نورالله سلطان زوی | ۸۰ |
| ۵ | د ابادۍ اتل | مبي سنبری | ۱۵۰ |
| ٦ | افغانستان عصر مجاهدین و برآمدن طالبان | چنگیز پهلوان | ۵۰۰ |
| ۷ | سوابق تاریخی تهاجم روس بر افغانستان | انتونی آرنولد/سیدرسول | ۱۵۰ |
| ۸ | افغانستان در ۵ قرن اخیر | میراحمد صدیق فرهنگ | ۱۰۰۰ |
| ۹ | تاریخ سیاسی ۲ افغانستان معاصر | ابوذر پیرزاده غزنوی | ۲۵۰ |
| ۱۰ | تاریخ سیاسی ٦ افغانستان معاصر | ابوذر پیرزاده غزنوی | ۲۰۰ |
| ۱۱ | ساکت شو و انجامش بده ۷ گام موفقیت | برایان تریسی/امیراحسان رضایی | ۷۰ |
| ۱۲ | د دوستۍ لار | ډیل کارنیګی/ محمد ابراهیم شینواری | ۱۵۰ |
| ۱۳ | سینوهه | میکاولتاری/محمد عیسی ستانکزی | ۵۵۰ |
| ۱٤ | مدیریت | سمیع الله ایلم | ۱۳۰ |
| ۱۵ | د ژوند لار | ډیل کارنیګی/ محمد ابراهیم شینواری | ۱۵۰ |
| ۱٦ | د ټولې نړۍ متلونه | وال کراګ/محمدصفر خواریکښ | ۳۲۰ |
| ۱۷ | راز | رونډا بریان/ محمد عیسی ستانکزی | ۱۳۰ |
| ۱۸ | The Ship of Brides | Jojo Moyes | ۲۳۰ |
| ۱۹ | Five Stars | Carmine Gallo | ۲۰۰ |
| ۲۰ | Every Thing | Nicola Yoon | ۲۵۰ |
| ۲۱ | The Power | Rhanda Byrne | ۳۰۰ |
| ۲۲ | Wishes Wont Bring Riches | Napoleon Hill | ۲۳۰ |
| ۲۳ | Very Good Lives | J.K.Rowling | ۱۵۰ |
| ۲٤ | Men Without Women | Murakami | ۱٦۰ |
| ۲۵ | The Name of The Rose | Vintage Eco | ۲۷۰ |
| ۲٦ | The Path to Personal Power | Napoleon Hill | ۲۰۰ |
| ۲۷ | The 1% Rule | Tommy Baker | ۲۰۰ |
| ۲۸ | The Power of your Subconscious Mind | Joseph Murphy | ۱۵۰ |
| ۲۹ | Mindset | Carol s. Dweck | ۲۰۰ |
| ۳۰ | Secrets of the Millionaire Mind | T.Harv Eker | ۱۷۰ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانی

# څنګه خپل کاري فرصتونه وپېژنو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»



دا چې د کاري فرصتونه پېژندل یوڅه سخت دي، خو که لږ متفکرانه او په دقیق ډول خپلو شرایطو ته متوجې اوسو، کولای شو له هغه د ښه کاري فرصت د لاس ته راوړلو لپاره ښه استفاده وکړو. موږ په همدې مقاله کې دا متفکرانه چل ول دربښیو.
کاري فرصتونه او د ښو کاري امتیازونو تر لاسه کول د هغه لپاره تر ښو ډېرو هڅو پرته نه شي تر لاسه کېدلی، که تاسې د دې هرڅه لپاره لېوال یاست، دویم قدم مو د هغه د تحقق لپاره عملي هڅه ده.
که غواړې چې دنده مو بدله کړی او یا هم په خپله شته دنده کې ښه پرمختګ وکړی، دا ډېره مهمه ده، څو هغه فرصتونه وپېژنئ چې ستاسې مهارتونه او شرایط ورسره همغږي دي، هغه باید تعقیب او وپېژنئ.
دا کار وخت ته اړتیا نه لري، یوازې همدا کافي ده چې خپل اوسني شرایط ښه و ارزوئ او پر خپلو وړتیاوو د برابر کار او دندې لپاره یو څه دقیق فکر وکړئ. د دغه کار لپاره باید ډېره هڅه وکړئ او د ډېرې ژر پایلې د لاسته راوړلو هیله یې ونه لرئ، مانا دا چې تاسې نن یو شرکت ته د دندې پیدا کولو لپاره لاړ شی او په سبا یې د ګومارلو هیله ولرئ، د دې کار د پایلې د لاسته راوړلو لپاره به ډېر صبر کوئ.

**۱- په دقیق ډول فکر وکړئ**

فرصتونه هر وخت ستاسې شاوخوا دي. (مانا دا چې فرصتونه هغه وخت ستاسې پر لور خپل مسیر بدلوي کله چې تاسې د هغوی د لټولو لپاره لږ تر لږه په ورځ کې یو یا دوه ساعته کار وکړئ.» نو باید هر وخت مو حواس د هغه پر لور متمرکز وي. دا مو د ځان عادت کړئ چې د داسې فرصتونو په لټولو پسې حد اقل هره ورځ یو ساعت تلاش وکړئ.
ښه ده چې په دې اړه له ځان سره د یاداښت یوه وړه کتابچه ولرئ او یا هم کولای شی په ځیرکو موبایلونو کې دا یاداښتونه له ځان سره وساتئ. هغومره چې تاسې له ځان سره ډېر یاداښتونه اخلئ، هماغومره ډېر او ښه ښه فرصتونه هم په لاس درځي.

**۲- د فرصتونو په لټه کې اوسئ**

تاسې کولای شی د هغه څه په اړه د پیدا کولو او لاس ته راوړلو لپاره هڅه وکړئ، چې تر اوسه مو دا هڅه نه وه کړې او یا هم دا برخه اصلاً له تاسې پټه ساتل شوې وه. ممکن دا ستاسې د درون هغه برخې او اړخونه هم و اوسې چې په پیدا کولو سره یې تاسې ته ښه ښه کاري فرصتونه په لاس درشي، لکه نن ورځ چې د یو ښه کاري فرصت د پیدا کولو لپاره د انګلیسي ژبې او کمپیوټر زده کړه اړینه ده. که تاسې په انګلیسي ژبه او یا هم کمپیوټر کې ښه وړتیا ولرئ، د هغه ملګري په پرتله یا هغه خت په پرتله چې تاسې دا ژبه نه وه زده کړې، اوس د یوې دندې د پیدا کېدو ډېر فرصت لرئ.
ښه ده چې د یوې ښې دندې د پیدا کېدو لپاره لومړی پر ځان پانګونه وکړئ. د خپلو اوسنیو شرایطو په اړه ښه فکر وکړئ، خپل راتلونکی او هغه موقف مو تصور کړئ، چې تاسې به راتلونکی کال ورته رسېږئ، اوس د همدې کار لپاره خپله پوره پوره هڅه وکړئ او ورته د رسېدو لپاره تر ټولو ښه لار دا ده چې خپلې وړتیاوې لوړې کړئ او پر مهارتونو مو ښه تمرین وکړئ. د ښو کاري فرصتونو د پیدا کولو لپاره ښه ده چې له خپلو اوسنیو همکارانو سره یوه کاري شبکه جوړه کړئ، څو د یو او بل په مرسته له ښو فرصتونو ژر خبر شی. که مو ملګري او دوستان په داسې سازمانونو کې کار کوي، چې دوی له خپلې دندې ډېر خوشاله دي، کولای شی له هغوی وغواړئ چې تاسې له خپلو نورو همکارانو او بالخصوص له رییس او مدیر سره معرفي کړي.

**۳- خپلې غوښتنې مو را کمې کړئ**

کله چې له خپلو پیاوړو او کمزور نقطو ښه خبر یاستئ، خپلې علاقې او هغه فرصتونه پیدا کړئ چې تاسې یې په لاس ته راوړلو سره خوشاله کېږئ، اوس نو هغه وخت رسېدلی چې د خپلې خوښې وړ تر ټولو مهم هغه یې انتخاب کړئ. کېدای شي چې وپوښتئ، ستاسې ډېر څه خوښېږي او غواړئ چې ټولو ته ورسېږئ، نه دا سم انتخاب نه دئ؛ انسان په طبیعي لحاظ حرص پیدا شوی او غواړي چې هرڅه ولري، دا هغه غوښتنه ده چې هېڅکله هېڅا هم نه ده لاس ته راوړې. ښه دا ده چې تاسې مو د غوښتنو تر منځ د لومړیتوب اصل مراعات کړئ، هغو موخو ته مو لومړیتوب ورکړئ چې ستاسې پر ورځني ژوند تر ټولو ژور اغېز لري.
که تاسې خپل وخت، انرژي او وړتیا پر ټولو تقسیم کړئ، له یوه به هم ښه پایله لاس ته را نه وړئ. خو یوازې پر څو هغو یې متمرکز اوسېدل کولای شي له تاسې سره د ښې پایلې په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي.
د هغه انتخاب په اړه چې تاسې تر نورو زیات ارزښت ورکوئ، دغه نقطې په نظر کې ونیسئ:
دا کار به په ورځني ډول ستاسې لپاره څه اغېزې ولري او ایا دا کار ستاسې له ارزښتونو سره همغږی دی؟
د هغه پایله او مزد به ستاسې لپاره څه وي؟
د دغه کار د کولو لپاره د کوم مهارت، وړتیا او یا هم کومې ښېړې کولو ته اړ یاستئ؟
څومره ممکنه ده چې هغه به تاسې ته خوشالي درکړي؟
څومره اسانه کولای شی له هغه استفاده وکړئ؟
له هغه سره تړلې خطرونه کوم دي؟
ممکن دا ډېره واضح نه وي چې کوم فرصت به ستاسې لپاره تر ټولو ښه وي. دا وخت تر ټولو د ښې ټاکنې لار دا ده چې د خپلو ستونزو د حل لپاره مو د غوره شوو فرصتونو تر منځ هغه یو یې غوره کړئ، چې په کم وخت او اسانه ډول سره کولای شي تاسې خپلې موخې ته ورسوي.

## مشرانو جرګه: د سیمه ییزو هېوادونو جنجالونه باید د افغان سولې پر وړاندې خنډ نه شي



د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې مذاکرات چې اساسي پړاو ته رسېدلي وو، له تېرې یوې میاشتې راهیسې له خنډ سره مخ شوي او دواړه لوري پر خپلمنځي سلا مشورو بوخت دي.
د مشرانو جرګې غړي د افغان سولې مذاکراتو ځنډولو لامل د امریکا او ایران تر منځ رواني شخړې بولي او زیاتوي چې د سیمه ییزو هېوادونو جنجالونه باید د افغان سولې پر وړاندې خنډ نه شي.
سناتوران دغه راز وایي، چې د دواړو غاړو تر منځ مذاکرات باید ژر تر ژره پیل شي.
د مشرانو جرګې غړی محی الدین منصف وایي: «په دې وروستیو کې چې د سولې خبرې پیل شوې، موږ هیله من وو چې پرمختګ به وکړي، خو د امریکا او ایران د وروستي کړکېچ له کبله دغه پروسه وځنډېدله».
سناتوران د امریکا او طالبانو تر منځ په روانو مذاکراتو کې د ژر تر ژره توافق پر رامنځ ته کولو ټینګار کوي.
په ورته مهال مشرانو جرګه د تجارت وزارت سرپرست پر وړاندې د ولسي جرګې وروستۍ پرېکړه ستایي او زیاتوي چې اجمل احمدي په پښتو او دري ژبو نه پوهېږي او باید حکومت یې په اړه جدي اقدام وکړي.
د مشرانو جرګې غړي دغه راز وایي، چې افغان حکومت له تېرو دریو میاشتو راهیسې افغان سرتېرو ته تنخوا نه ده ورکړې او په ډېرو ولایتونو کې سرتېري ژمني سون توکي نه لري.
په ورته وخت کې مشرانو جرګې د تېرې ورځې عمومي غونډې پر مهال په کابل ښار او ولایتونو کې د سون توکو او ګازو نرخونو لوړېدو په تړاو اندېښنه وښوده او له کابل ښاروالۍ یې ژر تر ژره د قیمتونو د کنټرول غوښتنه وکړه.

## حامد کرزی: د افغان سولې پرمختګ د ډېرو مسایلو ښکار شوی دی



پخواني ولسمشر حامد کرزی تېره ورځ په هند کې د رایزینا ډیالوګ کنفرانس ته په وینا کې ویلي، چې د افغانانو لومړیتوب سوله ده، خو دغه پروسه اوسمهال د ډېرو مسایلو ښکار شوې ده.
کرزي ویلي چې په افغانستان کې ټول پیاوړي هېوادونه ښکېل پاتې شوي، خو دغه حضور افغانستان د خپلو داخلي او سیمه ییزو سیاستونو او مشکلاتو په مدیریت کې له ستونزو سره مخ کړی دی. هغه دغه راز زیاته کړې چې د امریکا په ګډون، د افغانستان متحدینو ستړي تېروتنې کړې، خو افغانان اوس د امریکا د سولې له پروسې ملاتړ کوي او په دې پروسه کې باید د افغانستان ګاونډیان او نور هېوادونه هم همکار وي.
کرزي ویلي چې په مسکو کې دری مهمې غونډې وشوې، بین الافغاني ډیالوګ ناسته وشوه، چې ډېره رغنده وه او دی هیله لري چې دغسې نورې غونډې هم وشي او بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو ته لاره اواره شي.
د ښاغلي کرزي دغه څرګندونې داسې مهال دي چې تازه په دوحه کې د طالبانو او خلیلزاد تر منځ خبرې، د امریکا او ایران د وروستي کړکېچ له کبله په ټپه درېدلې دي او ویل کېږي چې دواړه لوري اوسمهال له خپلو مشرانو سره پر سلا مشورو بوخت دي.

اقتصاد

د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۲۵ |
| € | ۸۵,۸۰ |
| Rp. | ٤۸۱ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱,۱۰ |
| £ | ۹۹,۷۰ |

پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

بیړنی شمیري

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL Printing Co.
وایگل چاپ
if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د مرغومې ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د جنوري ۱۵مه | ٤۹۷یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۰ | ۱- | ۷ | ۵ | ١٤ | ۱۰ |
| ۱۱- | ۱۰- | ٤- | ٤- | ۲ | ۱- |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۲ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښين ۱۲:۰۳ | مازیګر ۰۲:٤٦ | ماښام ۰۵:۰۵ | ماخوستن ۰٦:۳٤

## نړۍ



# امریکا: له ایراني لاریونوالو سره روان تاوتریخوالی د منلو نه دی

۳

## راپورونه: په پاکستان کې د وروستیو واورو او بارانونو له کبله ۴۲ تنه وژل شوي



په پاکستان کې له طبیعي پېښو سره د مبارزې چارواکو ویلي، په دغه هېواد کې له تېرو څو ورځو راهیسې پرله پسې واورو او بارانونو لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې.
پاکستاني رسنیو د دې ادارې د چارواکو په حواله ویلي چې په ټول پاکستان کې وروستیو واورو او بارانونو لږ تر لږه ۴۲ کسان وژلي او په ډېرو سیمو کې یې ورځنی ژوند اغېزمن کړی دی.
د راپورونو له مخې، واورو او بارانونو د دغه هېواد بلوچستان صوبه او ازاد کشمیر سیمه تر ټولو زیاته ځپلې ده.
په بلوچستان کې له طبیعي پېښو سره د مبارزې د اداري چارواکو رسنیو ته ویلي، په دغه صوبه کې واورو، بارانونو او سختې تودې لږ تر لږه ۲۱ کسان وژلي دي.
د چارواکو په خبره: «د واورو له امله د بلوچستان د ډېری سیمو ځمکنۍ لارې تړل شوې چې په نتیجه کې یې په مستونګ، کیچ، قلعه سیف عبدالله، هارنایي او پشین کې بېړنی وضعیت اعلان شوی دی».
له بلې خوا بیا د پاکستان تر کنټرول لاندې کشمیر کې له طبیعي پېښو سره د مبارزې د اداري چارواکو ویلي، په دې سیمه کې د واورې ښوییدو لږ تر لږه ۲۱ کسان وژلي او ۱۰ نور یې ټپي کړي دي.
په بلوچستان، ازاد کشمیر او د پاکستان په شمالي سیمو کې چارواکو له خلکو او سیلانیانو غوښتي چې دغو سیمو ته دې له سفره ډډه وکړي.

## اردوغان: د سوریې حکومت ته په ادلیب کې د پوځي عملیاتو د پیل اجازه نه ورکوو



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، هېواد به یې اجازه ورنه کړي چې د سوریې حکومت په ادلیب کې یو ځل بیا عملیات پیل کړي.
هغه زیاته کړې چې د اړتیا په صورت کې به هر هغه ګام اوچت کړي، چې له مخې یې د سوریې پوځیان په یاد ښار کې د اوربند له ماتېدو راوګرځول شي.
اردوغان د ترکیې پارلمان ته په وینا کې ویلي چې نړۍ پوهېږي چې په ادلیب کې څه روان دي، خو د دغه کړکېچ د پای ته رسولو لپاره هڅه نه کوي.
هغه دغه راز زیاته کړې: «موږ په سوریه، لیبیا او مدیترانې سمندرګي کې د ستونزو د رامنځ ته کولو په هڅه کې نه یو، زموږ موخه یوازې د ځان او نورو ورونو خوندیتوب دی».
نوموړي دغه راز ویلي چې د لیبیا د ملي ځواک مشر خلیفه حفتر په دغه هېواد کې د سولې د یوې هوکړې د رامنځ ته کېدو له ترونه ډډه کړې ده.
اردوغان ویلي، لیبیا ته یې د سولې او ثبات په خاطر ځواکونه لېږلي او په خبره یې، که یې دا کار نه وی کړ، حفتر به د دغه هېواد پر مشروع حکومت کودتاه کړې وی.
نوموړي ویلي چې هېواد یې په ګاونډیو هېوادونو کې د روانو پېښو په تړاو چوپ نه شي پاتې کېدای.

## حکمتیار: امریکا از طالبان خواسته است تا با حضور از نیروهای امریکایی توافق کنند



گلبدین حکمتیار، رهبر حزب اسلامی می‌گوید که ایالات متحدۀ امریکا از گروه طالبان خواسته است که روابط شان را با ایران قطع کنند و با حضور شماری از نیروهای امریکایی در افغانستان پس از توافق‌نامه صلح نیز باید توافق کنند.
آقای حکمتیار می‌گوید که امریکا این دو اصل را همچون پیش شرط به امضای توافق‌نامۀ صلح با طالبان مطرح ساخته است و آقای حکمتیار این پیش شرط‌ها را موانع جدی در برابر روند صلح می‌داند.
حکمتیار در این باره اظهار داشت: «اکنون همچون پیش شرط‌های تازه‌یی از سوی امریکا پیشکش شده است که طالبان روابط شان را با ایران قطع کنند و حتی گفته می شود که از طالبان خواسته شده است که در بارۀ حضور شمار از نیروهای شان هم توافق شود».
اما طالبان تا هنوز به این گفته های آقای حکمتیار به گونۀ رسمی واکنشی نشان نداده اند.
این در حالی است که روند صلح افغانستان دو بدنه اصلی حکومت وحدت ملی را هم با تفاوت ژرف دیدگاه در باره آتش بس رو به رو ساخته است.
در حالی که ریاست‌جمهوری آتش‌بس را مهمترین پیش شرط برای آغاز گفتگوهای میان افغانان می داند، اما ریاست اجرائیه برای آغاز این گفتگوها کاهش خشونت‌ها را از سوی طالبان بسنده می داند.
مجیب رحیمی سخنگوی رئیس اجرائیه گفته است: «اگر کاهش خشونت بر اساس معیارها و میکانیزمی که مورد قبول امریکا و حکومت افغانستان توافق صورت بگیرد، برای ما قابل قبول است و آتش‌بس می تواند در گفتگوهای بین الافغانی مطرح شود».
با این همه انعطاف پذیری‌های حکومت افغانستان و گروه طالبان از بهر آغاز گفتگوهای میان افغانان بسیار مهم دانسته می شود.

## ژوند

## پر وخت او غوره پرېکړه مو بریا ته رسوي



یوه خبره مو باید په یاد وي، چې د ټولو پرېکړو لپاره باید دقیق فکر وکړئ او په پوره احتیاط سره ګام اوچت کړئ. که مو د ژوند په اړه په پوره دقت سره فکر کړی وي او کلک هوډ او ځانګړې موخې لرئ، نو بیا د دې لپاره هېڅ دلیل هم نه پاتې کېږي، چې ستاسو ژوند په شا روان دی، تاسو باید پرمختګ وکړئ. پر ډېرو څیزونو فکر کول او په یوه وخت د زیاتو موخو ټاکل تاسو له اصلي موخې ګرځوي او لاره دربندۍ ورکوي.
هېڅکله هم مه وایئ «له خبریالۍ سره مینه لرم، خو که خبریال نه شوم، معلمي خو کولای شم» نه، دا خبره سمه نه ده، که په زړه کې له خبریالۍ سره مینه لرئ، بیا نو په ټوله پیاوړتیا سره هماغه مسیر تعقیب کړئ، له مخې مو هر ډول خنډ لرې کړئ او مخ ته ولاړ شئ، څو بریالي شئ. هېڅکله هم د یو کار کولو په اړه دوه زړیتوب مه کوئ. دومره خپلې موخې ته د رسېدو لپاره هڅه وکړئ او د ستونزو پر وړاندې ودرېږئ، چې په پای کې درته یوه دروازه خلاصه شي او د هیلو لمر مو ژوند ته رڼا در وښيي.

## په منځني عمر کې خواږه مشروبات زیان لري



په منځني عمر کې خواږه مشروبات د شکرې او زړه ناروغۍ پیدا کوي. تازه مطالعات ښيي چې خواږه مشروبات د منځني عمر خاوندانو کې د شکرې او زړه ناروغیو سربېره، د غاښونو د خرابېدو لامل هم ګرځي. د څېړنې په باور، خواږه مشروبات د چاغوالي سبب کېږي، چې د زړه او شکرې ناروغیو خطر ورسره هم زیاتېږي. په څېړنه کې یو زر او دریو کسانو برخه درلوده، چې عمرونه یې په اوسط ډول ۴۵ کاله وو. ګډون کوونکي پر څلورو کټه‌ګوریو وویشل شول (مشروبات نه څښوونکي، کله کله مشروبات څښوونکي، زیاتره وخت مشروبات څښوونکي او هره ورځ مشروبات څښوونکي). له شپږو میاشتو څېړنو وروسته معلومه شوې، هغوی چې ډېر مشروبات یې څښل د زړه او شکرې پر ناروغیو د اخته کېدو زیات خطر یې موجود و. پر دې سربېره، د مشروباتو ډېر استعمال غاښونه هم خرابوي. په ټوله کې که وواېو، نن سبا د افغانستان په بازارونو کې ډول ډول مشروبات موندل کېږي، چې ډېری یې د کیفیت له اړخه خراب دي. ډاکټران وایي، دغه مشروبات د انسان د روغتیا لپاره زیان رسوونکي دي، ځکه په نړیوال معیار نه دي برابر او د خوړو کچه پکې خورا لوړه ده.